# بشر او بشریت
# د ستر حمزه بابا په نظر کښې
# HUMAN AND HUMAINTY IN THE EYES OF GREAT HAMZA SHINWARI

Tawab Shah Masroor Shinwari [1]
Hudabia Afghan [2]

**ABSTRICT:**

Ameer Hamza khan shinwari is of the most famous poet, intlectual and prose writer. He has played a prominent role in the field of Pashto language and literature. His poetry has a colourful reflection. He has not only addressed romanticism, Imigination of beauty, pakhtoon nationalism, mysticism but also he is strong supporter of human and mankind. In this paper his message in this regard will be highlighted in the contest of his work which he produced in every aspects of humanity so far.

ستر حمزه بابا انسانانو ته خپل دستورالعمل څهٔ دا رنګ بیانوي ـ

زهٔ دا نهٔ وایم چې لاس تر زنې کښېنه
پاڅه بوخت په تسخیر کښې د جهان شه
خو تسخیر خو وظیفه د حېوان نهٔ ده
که دې خوښه کامراني وي نو انسان شه[1]

بابا د انسانیت د فلسفې په بابله په خپل یو مضمون کښې لیکي :

”انسان د دریو عناصرو نه مرکب دے ـ ملکیت ، انسانیت او حېوانیت ـ په دې دریو کښې د انسان حقیقي عنصر انسانیت دے ـــ یعني ملکیت او حېوانیت د بدرګې په توګه ورکړې شوې دي ـ دا دواړه عناصر انسان ته د تکمیل دپاره ورکړې شوې دي ـ ځکه چې انسان خلیفة الله دے او تر څو چې هغه دا درې واړه عناصر اونهٔ لري ـــ هغه د خلافت په حقله خپلو ذمه وارو نه ځان نهٔ شي خلاصولے ـــ خو باید چې ملکیت او حېوانیت د انسان خادمان وي ـ که ملکیت په انسان غالب شي نو دنیا به ترکه کړي او که حېوانیت په انسان غلبه اوکړه نو په دنیا کښې به امن پاتې نهٔ شي ـــ نو ضروري ده چې د انسانیت غلبه وي او ملکیت او حېوانیت ئې دواړه د خادمانو په څېر د نیابت په سلسله کښې مرستیال وي ـ او چې داسې اوشي نو خالص انساني اخلاق به پېدا کېږي او چې انساني اخلاق کامل شي نو دنیا کښې به امن او امان غزونې اوکړي[2] “

[1]Assistant Professor G.P.G.C Landikotal District Khyber

[2] Mphil Scholar, Department of Pashtu, AWKUM

تر څو پورې چې د حېوانيت تعلق دے نو ددې مطلب دے لکه چې يو سړے په هر قسمه بدو چارو او ګناهونو کښې اخته وي نو پوهه شئ چې دغه کس حېواني جذبې په مخه اخستے دے ـ په نورو ټکو کښې نفس اماره رالاندې کړے دے لکه د بابا لاندينې شعرونو نه په ښکلې جوړ ددې حقيقت څرګندونه کېږي ـ

د انسان دپاره نشته په انسان کښې پېرزوئنه
لړ له دې به هم بتر وي که زهٔ اووايم حېوان دے[3]

بيا وائي :-

مروت خو په ادم کښې له اوله موندهٔ نهٔ شي
هسې نه چې اوس عنقا شو د حمزه په زمانه کښې[4]

دغه رنګ په يوه قطعه کښې څهٔ دا رنګ وائي :-

شوم پوې چې لا موجود حېوانيت دے په انسان کښې
چې واورم په انسان باندې قلنګ دے د انسان
ترې ورکه پېرزوئنه فطرتي حېوانيت کړه
انسان ته فکر اوکړه چې نهنګ دے د انسان[5]

په يوه بله موقع وائي :-

مهٔ ستايه په مخ سپين او په زړهٔ تور انسان
دے ښکلے په ظاهر کښې خو منګور انسان
سپرلے خو سعې غر ته رنګينئ راولي
حېوان دے سړے نهٔ شو سړي خور انسان[6]

دغه رنګ ملکيت دادے لکه يو بنده د فرښتې يواځې په عبادت کښې مشغول وي ـــ نهٔ دے د دنيا حال احوال نه خبرداره وي اونهٔ د دنيا خلق ددهٔ د حالت نه ـ داسې کس چرته په يو ګوښې ګټ کښې ناست وي او بغېر د عبادت او رياضت نه نور هېڅ قسمه په ښو کارونو او نيکيو قادر نهٔ وي ـــ نو ظاهره دا چې دغسې بنده د ملکيت د جذبې د اثر لاندې وي حالانکې دا دنيا او دې سره تړلي واړه څيزونه حق تعالیٰ بې کاره نهٔ دي پيداکړي ـ الله تعالیٰ چې انسان د زمکې په مخ خپل خليفه او نائب ګرځولے دے او د هغه مقام ئې د فرښتو نه غوره ښودلے دے نو بائد چې انسان دې د خلافت الٰهي فرائض نهٔ يواځې اوپېژني بلکې په غوره طريقه دې سرته هم اورسوي ـ خو دملکيت په سيند کښې بهېدلے بنده د عبادت او رياضت نه سوا نورو واړو نيکيو او غوره کارونو ته شا کړې وي ـ يعنې د خداے مخلوق نه ځان په ډډه ساتي ـ

د ستر حمزه بابا د تعليماتو تر مخه په خلقو کښې په ښاريو کښې او په کلو او بانډو کښې هم د رياضت او مجاهدې کار په غوره طريقه ترسره کېدلے شي ـــ ځکه چې د حق تعالیٰ مخلوق نه تېښته د ځوان مرد سالک کار نهٔ دے ـ لکه چې بابا وائي :-

خپل ځان هله خپل ځان شي چې څوک ځان اوپېژني
بې دې نه څه امکان دے چې جانان اوپېژني
لا دېرې مرحلې شته له انسانه تر انسانه
هر څوک چې شي ملک هله انسان اوپېژني[7]

دغه رنګ په يوه قطعه کښې وائي :-

د نسيان د هلک مور خود عرضي ده
چې له اُنسه برخه اومومي انسان شي
د ادم انسان تر مېنځ حېوانيت دے
دربېغه دا ملکيت ئې چې تر ميان شي

چې حواس پـه یـو مـرکـز شـــي انســـان دادے
چې جوړې جوړې رایو ځـاے شـــي کـاروان شـــي
ائـیـنـه د ســـړیـتـوب حـېـوانـیـت دے
چا چې اولیـد پـه کښـــې ځـان هغـه حېوان شـــي
د والـعصـــر نـه مـې حـال د انســـان زده کـړ
خـاســـر نـهٔ دے چې پـه نېغـه لار روان شـــي[8]

د ملکیت نه پس د انســانیت هغه لوړه رتبه او مقام دے کوم کښــې چې یو ســالک د حېوانیت او ملکیت په دواړو عناصــرو او جذبو برے اومومي یعني دغه دواړه جذبې ئې د انســانیت په قالب کښــې راشي ـ او بیا هم دغه سالک د زمکې په مخ د خلافت حقدار اوګرځي ـ چې مونږ ورته په نورو ټکو کښې کامل انسان هم وئیلے شو ــ خو یاده دې وي چې دغه لوړ مقام د هر کس د وس خبره نهٔ ده ــ ددې مرتبې او رتبې هغه سالک حقدار دے کوم چې په معنوعي توګه انسان وي ــ او د انسانیت جوهر ئې په حېوانیت او ملکیت دواړو جذبو باندې غالبه وي ـ لکه چې بابا دې لاندې قطعه کښې وائي :-

چـې مـغـلـوب حـېـوانـیـت کـا انســـان دادے
چـې غـالـب انســـانـیـت کـا انســـان دادے
ګـوډاګــے د جـبـلـت چـې وي حـېـوان دے
تصـــرف چـې پـه فـطـرت کـا انســـان دادے[9]

بل ځاے وائي :-

خوي بـه د حېوان یـا د ملـک پرې غـالـب شـــوے وهٔ
ښـهٔ شـوه د انسـان انســانیت ئې تر مېنځ پوله شــوه[10]

دغه رنګ بابا یوه قطعه کښې وائي :-

چې احســـاس پـه هر انســـان کښـــې د قبول دے
بـس تـکـمـیـل د ســـړیـتـوب تـه دا اصـــول دے
د فـطـرت پـه لاره تـلـل انســـانـیـت دے
د شـــهـوت پـه لاره تـلـل د زړونـو نـول دے[11]

لاندینی قطعه هم د بره خیال په غوره طریقه نمائندګي کوي :-

نـهٔ مــې مـلـک کـړه نـهٔ مـې حـېـوان کـړه
نـهٔ مې تول عشـــق کړه نـهٔ مې عصـــیـان کړه
زهٔ مســـلـمـان یـم اوســـط مــې خـوښ دے
زمـا خـالـقـه مـا خـو انســـان کـړه[12]

بره ورکړې شوو تناظر په رڼا کښې مونږ په اسانه دا رائې قائمولے شو چې زمونږ ستر روحاني بابا په انسانیت مئین وهٔ او د ستر انسانیت په راز پوهېدو ـــ د هغهٔ په خیال انسانیت تر ټولو غروه او لوړه درجه ده او ځکه خو به ددې لوړې رتبې د تکمیل په لړ کښې هغهٔ په ځینو معقود مذهب نه هم بالا شو او د ځینې روایتي او خشکو ملایانو خشـک بریدونه به ئې هم مات کړل لکه چې په لاندیني شعر کښې وائي :-

حمزه ډېر مســلمانان شــته هم کافر شــته په دنیا کښـــې
زهٔ اشـــنا د هغه کس یم چې روش ئې د انســـان دے[13]

**ستر محقق، لوے نقاد او لوړ پاله ادیب ښاغلے دوست محمد خان کامل مومند د بابا شعري مجموعې ''یون'' په سریزه کښې د بابا په ذکر شوي شعر نیوکې کړي دي او لیکلي ئې دي چې یو**

**داسې شاعر له لکه چې زما اسلامي او پښتني مقصد او نظريه لري ـــ داسې مبهم او زومعنٰی شعر وئيل نۀ دي پکار ـــ او که پرې غېر شعوري توګه ئې هم وائي نو لکه چې په ما او زمونږ همخيال هر سړي بدلګېدونکے دے ـ نو پکار دي چې په ويونکي هم بد اولګي او د تنسيخ خط پرې راکاږي او بيا په تېره تېره د ادب او فن په داسې نظرياتي دور کښې لکه چې مونږ په کښې اوسو د هرې هغه وېنا نه چې ويونکي نظريې او مقصد سره سمون نۀ خوري ځان ژغورنه خاص طور سره ضروري ده[14] ـ**

د ښاغلي کامل صېب د بره اختلاف او اعتراض په لړکښې به زۀ دومره قدرې اووايم چې د هر شخصيت خپل خپل نظر او نظريه وي او تر کومه چې د بابا د ذکر شوي شعر تعلق دے نو زما تر پامه دا د بابا د کلهمې نړۍ دپاره د انساني خواخوږۍ او انسانيت معراج ته د رسېدلو يوه غوره او په زړۀ پورې اظهار دے ـ او بايد چې په هم دغه نظر ورته اوکتلے شي ـ

دې روښانه حقيقت نه هېڅوک هم سترګې نۀ شي پټولے چې سره د دومره ډېرو مادي وسائلو سائنسي ايجاداتو او انفارميشن ټيکنالوجي پرمختګ هم د نړۍ زياتره انسانان جهل ، غربت ، بدامنۍ او د ژوند بنيادي ضرورتونو نه محرومه دي ـــ په دې لړ کښې د حمزه بابا د يو مضمون اقتباس وړاندې کول هم په ښکلي جوړ زمونږ رهنمائي کولے شي ـ لکه چې هغه ليکي :-

'' مونږ ګورو چې د کائنات د نورو شيانو په څېر انسان هم ددې کائنات يو شے دے ـ نو ظاهره ده چې د نورو شيانو غوندې به انسان هم د جدليت ( سانس) د قانون نه متاثره وي ـــ نو بيا څۀ وجه ده چې انسان سره د دومره مادي ترقۍ هم لا تر اوسه په هم هغه مقام ولاړ دے په کوم چې په ابتدا کښې ولاړ وۀ ـــ يعني تر اوسه انسان د هغه بنيادي نقص ازاله اونۀ کړے شوه کوم چې عين د هغه د ژوند مقصد سره متصادم دے ـ او هغه نقص دے انسان د انسان سره دښمني ـ ګني هسې خو نن صبا د نړۍ کوم قوم دے چې د انسان او انسانيت نعرې نۀ وهي ـــ ليکن په عملي ډول هر انساني قام بل قام استحصال ته ملا تړلې ده ـ ددې بنيادي وجه داده چې تر نن ورځې د انسانانو اکثريت انسان ته صرف د يو مادي ځناور حېثيت ورکوي او د مادې نه ماوراء د هغه هېڅ حېثيت نۀ مني ـ خو بيا ددې خپل خيال په ترديد کولو هم مجبور شي ـــ او هر قام په خپل ائين کښې د انسانيت د تحفظ دپاره څۀ دفعات شامل کړي ـ نو که چرې انسان کټ مټ يو مادي ځناور وي نو بيا د آئين جوړولو څۀ سوال نۀ پيداکېدۀلکه د نورو ځناورو به دے هم ځناور وۀ ـــ او تر نن ورځې چې انسان کومه ترقي کړې ده د هغې هډو تصور نۀ شو کېدے[15] ''

د برني خيال نقشه بابا په خپلو اشعارو کښې څۀ دا رنګ راښکلې ده ـ

خومره چې نخره د نن د انســـان د پېرزوئنې ده
هومره د انســـان د پېرزوئنې لمن تشـــه ده[16]

دا تــغــيــر پــه کــوم طــرف دے روان
خـداے زده ضـــمير د انســـان څنګـه بـه شــي[17]

د تاريخ په بېلا بېلو دورو کښې انسانانو د خپل خپل فکر ، سوچ ، ذهني برتګ او د حالاتو مطابق د خپلو ملکونو دپاره بېلابېل طرز حکومتونه او نظامونه جوړ کړي او بيا ئې څۀ موده پس وران کړي دي يعني د هغو طرز حکومتونو ځاے نورو نظريو او نظامونو نيولے دے ـ لکه غلامانه نظام ، جاګير دارانه نظام ، سرمايه دارانه نظام ، سوشلزم ، اشتراکي نظام يا کميونزم او جمهوري طرز حکومت او داسې نور ـ د ذکر شوو نظامونو مقصد که يو طرفته د حکومت انتظامات په ښۀ او غوره طريقه باندې چلونه وه

نو په بل لوري ددې په شا بل لوے مقصد د نړۍ امن و امان او نوع بشر د پرمختګ او سوکالی دپاره هلې ځلې او کوششونه هم وو ـــ خود تاریخ پاڼې مونږ ته دا حقیقت په داګه کوي چې په نړیوال کچ په یو دور کښې هم ذکر شوي هېڅ یو نظام په بشپړه توګه د انسانیت د بقا، د هغوي د اساسي حقونو او وړپېښنو ستونزو د حل دپاره په مناسبه توګه هېڅ قسمه بند بنا اونهٔ کړې شوه ـ سوب ئې دادے چې انسان نهٔ یواځې حېواني او مادي عناصر د انساني عناصرو په خلاف روان دے بلکې د ملکي عناصرو امتزاج او ګډون ئې هم انساني عناصرو سره په صحیح جوړ نهٔ دے شوے ـــ بابا په خپلو اشعارو کښې د حقیقت دې اړخ عکاسي څهٔ په دا رنګ کوي لکه چې وائي :-

شـــایـد چې بـدلولـے د انســـان نـهٔ شـــي فطرت
دا څـوک چـې نـظـامـونـه بـدلـوي رابـدلـوي[18]

په بل شعر کښې وائي چې :-

تحریک چې د انســـان د احترام شـــروع انســـان کـه
حاصـل شـو ترېنه دا چې احترام د انسـان ورک شـو[19]

حضرت بایزید بسطامي رح نه چا پوښتنه اوکړه ''چې انسان کله متواضع وي ـ هغهٔ ځواب ورکړو چې کله چې یو انسان په خپل ذات باندې د خپل نفس حق اونهٔ ګڼي یعني تسلیم ئې نهٔ کاـ'' ځکه چې هغه د خپل نفس د شر او عېبونو نه خبر وي ـ

هر کله چې قلب نه تواضع ، انکساري او عاجزي اوځي ـــ د هغې ځاے کبر او غرور اونیسي او ظاهره ده چې دې سره د بدن نور اندامونه هم متاثره کېږي ـــ او دا حقیقت خو په ډاګه دے چې په لوښي کښې چې څهٔ وي هغه به ترې راوځي ـــ نو چې کله د کوم بشر زړهٔ د عاجزۍ او خاکسارۍ صفت نه بې برخې شي نود هغې اثرات به خامخا د کبر او غرور په صورت کښې ظاهرېږي ـــ لکه چې ستر بابا په خپل دې شعرونو کښې وائي :-

مینــه چې ترې لرې شـــي بتر شـــي لــه حېوانــه هم
دا مې پــه انســـان بـانـدې ربښـــتیني الزامونــه دي[20]

بابا په یو رباعي کښې هم د خپلو خیالاتو څرګندونه داسې کوي ـ

اســـلام کـړي هـدایـت حـېـوانـیـت پـرېـږده
مـومـن شـــه پـه انســـان جـارحـیـت پـرېـږده
اســـلام خو داســـې وائي ســـلامـت اوســـه تـل
دا هـم وائـي چـې بـل هـم ســـلامـت پـرېـږده[21]

د حمزه بابا په تعلیماتو کښې تر ټولو مهمه څیز انساني تربیت دے ـــ په دې لړ کښې هغه د نورو ډېرو ذمه واریو او لوازماتو تر څنګ په خاصه توګه د انسان په تربیت باندې زیات زور ورکوي ستر بابا د انسانانو یوې داسې معاشرې د قائمولو ارزومند دے چرته چې انسان خو انسان دے چې ډېنګر په کښې هم تربیت یافته وي ـــ هم دغه سوب دے چې بابا خپل ټول ذهني صلاحیتونه او قوتونه د راتلونکي قوي ، صحیح او فطري انساني ټولنې د جوړښت دپار ه پکار راوستلي دي ـــ ځکه خو هغه موقع پرستو، زمانه سازو او منافقینو باندې د خپل کره تنقید تېرهٔ ګذارونه کړي دي ـ کوم چې په جلسو ، جلوسونو او سټېجونو باندې دخپلو ذاتي ګټو تر لاســه کولو په دپاره د دهوکو، مکر او فریب نه کار اخلي او په دروغه د مذهب نوم استعمالوي ـ او په دې بهانه د ساده اولس پوستکي اوباسي او د هغوي حقونو خوړلو باندې خپلې لویې خېټې نورې هم څربوي ـــ په خپل اشعارو کښې بابا ددې حقیقت څرګندونه څهٔ په دا رنګ کوي لکه چې وائي :-

د مـذهـب دعـوٰی دې پـرېـږده ســـــړي خـوره
ســـتـا دعوٰی هلـه صـــحیح ده چې انســــان شـــې[22]

انســــانیـت د شــجـاعـت، ســخـا، حیـا نوم دے
پام چې ئې تول نهٔ کړې د جنګ او د مصــــاف په تله[23]

حمزهٔ څـهٔ شـــې پـه دا کـه مـال او زر لري څوک
مـالـک د تخـت و تـاج وي او لښـــکر لري څوک
پـه ســـترګو کښـــې جوهر چې د حیـا نـهٔ لري
ترې تېښـــتـه پـه دنیـا کښـــې کـه کوثر لري څوک[24]

په کال ۱۹۳۶ء کښې په برصـغیر کښې د ترقي پسند تحریک په نوم یو پاڅون پیل شـو او ډېر په تیزئ سره ئې په زیاتره ایشیائي هېوادونو باندې د خپلو اثراتو پنجې ښخې کړې ۔ پښتو ادب هم ددې د اثراتو نه بچ پاتې نهٔ شو ۔ او په لږه موده کښې ګڼو لوړپاله لیکونکو ددې پاڅون په پېروئ کښې په لوے مقدار کښې قیمتي فنپارې تخلیق کړې ـــ ددې تحریک په مقاصدو او خاصیتونو کښې د ټولو نه لوړ مقصد او منشا د مظلومو، بې وزلو ، بې وسو او غمزپلو انسانانو په حق کښې اواز اوچتول ، هغوي له جائزه بنیادي حقونه ورکول او د هغوي د ښېګړې او بقا دپاره ټولې شتهٔ وسیلې پکار راوستل وو ۔ خو د تاریخ پاڼو نه مونږ دا حقیقت په ډاګه کېږي چې زیاتره ترقي خوښو لیکونکو د انسان او انسانیت په حق کښې نعرې تشې نعرې وې او په حقیقي معنو کښې په عملي ډګر کښې د هغوي کردار او عمل په مکمله توګه ددې ضد وهٔ ـــ نو ځکه خو زمونږ ستر روحاني بابا کوم چې په عملي توګه او هم په معنوي لحاظ سره د بشریت لوے او رښتینے علمبردار وهٔ کله چپ پاتې کېدو شو ځکه خو ئې د هغوي لباسي او بشر مخالفه نعرو ځواب څهٔ دا رنګ اوکړو چې :

قطعه

ورځـه ســنـدره د انســـان کـه زهٔ اصـــول اوګڼم
نو بیـا چې وینـه د انســـان تویوي دا څوک دي
کـه زلفي پرېږدم د انســــان تورې تیرې اوژاړم
راتـه خپل بڼ کښـــې چې ماران لوبوي دا څوک دي[25]

په یوه بله موقع په یوه قطع کښې داسې وائي :-

کـه انســـان انســـان نـعـرې وهـم ګـویـان یـم
خـو چې خـپـل کـردار تـه اوګـورم حـېـران شـــم
کـه غـالـب پـه تـقـاضـــو د جـبـلـت شــــوم
هـلـه پســـتـه بـه مـنـمـه چـې انســـان یـم[26]

د نړئ لوے استعماري قوتونه له اوږدې مودې راغسې لوے او زهرېله ایټمي وسلې جوړوي او جواز ئې داسې وړاندې کوي چې دغه وسلې مونږ د خپلو ریاستونو د حفاظت او د انسانیت خدمت او بقا دپاره پکار راولو ـــ خو دا روښانه حقیقت د چا نه هم پټ نهٔ دے چې د دوي مقاصد د کمزورو هېوادونو تسخیر او د هغوي مادي وسائل او ذریعې په خپله ولقه کښې اخستل دي ۔ کوم چې تر ننه روان دے ۔

خو ددې په مقابله کښې دا حقیقت هم لکه د غر محکم دے چې حق تعالیٰ دا دنیا په یو وخت کښې هم د داسې لوړو او سترو انسانانو نه خالي نهٔ ساتي کوم چې په حقیقي معنو کښې نوع بشر د حېوانیت د شر او فساد نه په امن کښې ساتي ۔ او که چرې د جنګ ضرورت هم پېښ شي نو جنګ ئې هم په ملکونو

او د هغوي په مادي وسائلو د قبضې دپاره نۀ وي ــ بلکې د هغوي اولنے او اخرينے مقصد اصلاح ، امن او روحاني تربيت وي ــ لکه چې حضرت علي رضؓ په يو جنګ کښې مخالف فرق راڅملولو په سينه ورته کښېناستو او په مرئ ئې ورته چاړۀ کښېښوده ـــ هغه کافر نه چې نور هېڅ هم اونۀ شول نو هغۀ د کرکې او نفرت په جذباتي حالت کښې د حضرت علي رضؓ په مخ مبارک باندې لاړې تُو کړې ـــ داسې کولو سره سم حضرت علي رضؓ د هغۀ د مرئ نه چاړۀ را اوچته کړه او هغه کافر ئې پرېښودو ــ هغه کافر ترې ډېر د حېرت په انداز کښې پوښتنه اوکړه چې اے عليرضؓ زۀ دې ولې ژوندے پرېښودم ـــ تا خو زۀ ښۀ په اسانۍ سره وژلے شوم ـ حضرت علي ځواب ورکړو چې مونږ تاسو سره جنګ د نفساني خواهشاتو دپاره نۀ کوو ـــ بلکې زمونږ مقصد فتنې او فساد ختمول دي نو تا چې زما په مخ لاړې راتُو کړې نو ماله د يو انسان په حېث غصه راغله نو که تۀ مې په داسې حال کښې وژلے وے نو دا قتل به د نفس دپاره وے نۀ د شر او فتنې د ختمولو دپاره ـــ دا واقعه په خپله مونږ ته دا حقيقت په ډاګه کوي چې د حضرت علي انساني عنصر په حېواني عناصرو باندې په بشپړه توګه برلاسي لرله ـــ ځکه خو هوښياران وائي چې د غصې او حېواني جذبې په حالت کښې د صبر، عقل او زغم نه کار اخستل د معمولي انسان کار نۀ بلکې د يو فوق البشر کار دے ـــ زمونږ ستر روحاني او بشر دوسته بابا هم ددغه سلسلې او عقيدې يوه محکمه او مضبوطه کړې ده ـ په خپلو اشعارو کښې ئې داسې وضاحت کوي ـ

اوســـاتــه خپـل ځـان دې د ضـــمير د ملامـت نـه
څـۀ شـــې حمزه څـۀ کـه زمـانـه دې ملامـت کـا[27]

د حـقـيـقـت ســــره عـادت د جـفـا مـۀ زده کـوه
تـۀ چې لـه انســـه عبـارت ئې خطـا مـۀ زده کوه[28]

بـــالاتـــر لــــه حــــرصــــــه اووايــه چــې ولــې
لا تر اوســـــه انســــان نـۀ شـــو د انســــان خپـل[29]

د عالم اسلام ستر عالم ، فاضل او لوے عملي صوفي مولانا روم رحؒ قول دے چې الله تعالٰـی ذات ته د يو بنده د رسېدلو ډېرې لارې او ذريعې دي ـ خو ما د حق ذات ته د رسېدو د ټولو نه غوره او خوښه يعني مخلوق خدا سره د محبت لاره خوښه کړه ـــ په دې زرکاني د حمزه بابا شعري افکار د يو ستر اخلاقي دستاوېز حېثيت لري لکه چې وائي :-

فکر اوکړه ځـان تـه چې منشـــا د صـــانع څـۀ ده
ښـــۀ ئې چې پېدا کړې نو اوس ښـــۀ کول پکار دي[30]

نشـــتـه حـقـيـقـت کښـــې تـيـرې نشـــتـه دے
ګــوره د هــر تــن نــه بــهــر ســـــوري دي[31]

خپلو کښـــې که چرته د انســـان د انســـان جوړه شــي
هلـه پـه معنٰی پـه صـــحيفـه د جهـان جوړه شـــي[32]

ستر حمزه بابا د بشر دوستۍ د تقدس او احترام تر څنګ يوه ځانګړې نظريه هم لري يعني ملي انساني نظريه کومه چې د هر انسان فطري تقاضو مطابق ده ـ په خپل يو ليک کښې هغه په دې بابله ليکي چې :-

'' د قام سره محبت د انسان په خټه کښې اخلے دے ـــ او هېڅ يو انسان داسې نشته چې هغه به د خپل قام سره مينه اونۀ لري او د حب الوطن من الايمان مصداق به نۀ وي ــ خو

که دغه جذبه د خپل حد نه زیاته شـي افراط ته مائله شـي نو په هغې کښـې جارحانه روح پېدا شي ـــ مذهب هم ددې دپاره راځي چې د قامونو په فطري خواهشاتو او جذباتو کښې اعتدال پيدا کړي ـ بيا په تېره تېره اسلام چې د نړۍ اخري مکمل د ژوند نظام دے ـ هغه خو هيچرې فطري تقاې نۀ فنا کوي بلکې په اعتدال کښې د هغو د پوره کولو هدايت کوي که چرې داسـې وې چې اسـلام د انسـاني فطرت د غوښـتنو خلاف حکم کولے نو تاسـو تصور اوکړئ چې نن به په دنيا کښې چرته هم چا مسلمان ليدلے وو[33] ''

ځکه بابا په خپلو اشعارو کښې ددې حقيقت څرګندونه داسې کوي ـ

تـۀ کـه ښـــۀ پښـــتون شـــوې نو انســـان بـه شـــې
بيـا کـه ښـــۀ انســـان شـــوې مسـلمـان بـه شـــې
پــرېــږده آئـيـنـــه زړونـــو کښـــــې څـــۀ ګـــورې
ځـان بـه پـکښـــــې اويـنـې حـېـران بـه شـــې[34]

راتــه خــپـل مســـلـمـانــان نـا مســـلـم وائـي
چــې لــه ټـولـو ولـې ښـــۀ ګـنـم افـغـان خـپـل[35]

ليلٰـــــی د ارتـقـاء چې ســـتـا څـړۍ کومـه ده
ســـنـدرو د کـومــې ويـنـې دے دړۍ کـومـه ده
زنـــځـيـــر چـــې د انســـــان د اخـــوت جـــوړېـــدو
مـا غـړ کړو د پښـــتون پکښـــې کړۍ کومـه ده[36]

حمزه بابا يو عارف وۀ يو کامل مومن وۀ نو ظاهره ده چې کامل انســـان هم وۀ ځکه خو ئې د يو کامل انسان په حېث د عالم بشريت واړه خواخوږۍ ، ښېګړې او فائدې په نظر کښې وې ـــ هغه د انسان د لوړ مقام او مرتبې نه په حقيقي معنو کښـې باخبره وۀ لکه چې په خپل يو مکتوب کښـې د انسـان د اهميت په بابله ليکي چې :-

'' الله تعالٰـــی د ټول مخلوق نه زيات انسان خوښ دے ـــ ګويا انسان ئې مطلوب دے او انسان د سترګو کسي ته هم وائي ـــ ګويا انسان (وجود محمدي ص) د الله تعالٰـــی د سترګو کســے دے ـ[37] ''

په خپلو اشعارو کښې بابا ددغه نايابه خيال نقشه څۀ داسې راکاږي لکه چې وائي :

انســـان څـۀ دے خو د خـدائے د ســـترګو کســـے
چـخـوي ولـې د خـدائے پـه ســـتـرګـو خـلـــے[38]

مطلب دا چې انسانان خدائے ته ډېر نزدې ، خوښ او ګران دے ـ خو اکثر ځيني حېوان صفته انسانان د الله خوښ او غوره مخلوق يعني انسانان ازاروي ـ دا کار يا عمل داسې دے لکه چې څوک خاص د خدائے په سترګو کښې خلي منډي ـــ يعني ناروا او ناشوني عمل دے ـــ ګويا د الله سترګه هم يوه لطيفه او نادره استعاره ده ـ چې د حق تعالٰی ناخوښي ترې صفا ظاهرېږي ـ

دغه رنګ په لانديني شعر کښې هم بابا اول انسانانو ته د خپل ځان د پېژندنې او بيا پسته د هغې د کلهم انسانيت سره د مينې او محبت پېغام څۀ په دا رنګ ورکوي ـ چې :

اوپژښندۀ ځان ئې چې د خدائے د ســـترګو کســـے دے
بيا د زړۀ له تله به انســـان شـــې په انســـان مئين[39]

لنډه دا چې حمزه بابا د يو عميق او بسيط شخصيت عامله هستي وه ـــــ د هغهٔ د بشپړ شخصيت بې شماره اړخونه او رنګونه دي ـ بيا د هغهٔ ليک په هره موضوع او هر اړخ دومره ژور والے او پراخي لري چې په يوه وړه شان مقاله کښې د هغې احاطه کول بېخي ناشونې شان خبره ده ـــــ د انسان او انسانيت په بابله هغهٔ په تخليقاتو کښې بې شماره کوټلي تصورات ډېر په سپېڅلي ډول په نظر راځي ـــــ نو ځکه ما هم د مشت از خروار په مصداق د هغهٔ د تخليقاتو د زيربحث موضوع د ډېرې لږې برخې د مطالعې نه ستاسو په وړاندې ځينې کميابه ملغلرې ډالۍ کړې ـ

په اخر کښې زهٔ خپل ليک د بابا په يو داسې شعر سره رانغاړم چې که يو طرفته حاضر حالات ، واقعات او حقائق هم ددې اصل روح وړاندې کوي نو په بل لوري دې نه د ستر بابا حقيقت پسندي ، ژرف بيني او د انسانيت لوړ معيار تعين هم په ډاګه کېږي لکه چې وائي :-

تښـــتم د ســـړي نـــه د انســـــان ســـره کښـــېنم
چرتــه چې کښــــېنمــه د خپـل ځــان ســـره کښـــېنم

ډاکټر تواب شاه مسرور شنواري
لکچرر پښتو ګورنمنټ ډګري کالج
لنډي کوتل خيبر ايجنسي

---

# حوالي

[1] حمزه بابا کلیات پنځم جلد ، ډائرېکټر پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، ١٩٩٧ء ، مخ ٣٠٧
[2] امیر حمزه خان شنواري ، غنچک ، مرتبه کلیم شنواري ، اریانه خپرندویه پېښور ، ٢٠١٣ء ، مخ ١١٨، ١١٩
[3] د حمزه شنواري دیوان و غزلې ، سریزه او زیار محمد اصف صمیم ، ٢٠١٣ء ، مخ ٤٧٣
[4] ي
[5] د حمزه شنواري کلیات څلورم جلد ، ډائرېکټر پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، ١٩٩٧ء ، مخونه ٤٦٩، ٤٧٠
[6] کلیات حمزه شنواري پنځم جلد ، مخ ٥٩
[7] د حمزه شنواري دیوان و غزلې ، مخ ٤٥٧
[8] د حمزه بابا کلیات څلورم جلد ، مخ ٤٧١
[9] کلیات پنځم جلد ، مخ ٢٤٧
[10] دیوان حمزه شنواري ، غزلې ، مخ ٢١٣
[11] حمزه شنواري کلیات پنځم جلد ، مخ ١٥٧
[12] همدغه اثر ، مخ ٤٣٦
[13] د حمزه شنواري دیوان ، مخ ٥٧٢
[14] حمزه شنواري ، یون ، سریزه دوست محمدخان کامل ، مومند ، ١٩٨٨ء ، مخ ٨
[15] حمزه شنواري ، غنچک ، مخونه ٣٥٦ ، ٣٥٧
[16] حمزه شنواري دیوان ، مخ ٢٥٧
[17] همدغه اثر ، مخ ٤٤٣
[18] همدغه اثر ، مخ ٤٦٤
[19] همدغه اثر ، مخ ٢٠٦
[20] همدغه اثر ، مخ ٣٨٤
[21] حمزه شنواري کلیات پنځم جلد ، مخ ٦٢
[22] حمزه شنواري ، غزوني ، دیارلسم ایډیشن ، جدون پرېس پېښور ، ٢٠٠٠ء ، مخ ٣٢٧
[23] حمزه شنواري دیوان ، مخ ٣٠٩
[24] حمزه شنواري کلیات پنځم جلد ، مخ ٣٤٣
[25] همدغه اثر ، مخ ٢١٤
[26] همدغه اثر ، مخ ٢٥٤
[27] د حمزه شنواري دیوان ، مخ ٨٦
[28] همدغه اثر ، مخ ٣٥٦
[29] همدغه اثر ، مخ ١٣٢
[30] همدغه اثر ، مخ ٣٧٥
[31] همدغه اثر ، مخ ٣٩١
[32] همدغه اثر ، مخ ٤٤٥
[33] مکتوبات حمزه شنواري ، سریزه طاهر بخاري ، آرټ پوائنټ پېښور ، ٢٠١٦ء ، مخ ٤٢
[34] حمزه شنواري دیوان ، مخ ٥٠٠
[35] همدغه اثر ، مخ ١٣٢
[36] کلیات حمزه شنواري ، پنځم جلد ، مخ ٣٧٣
[37] امیر حمزه شنواري ، انسان که حیوان ، نظم په حواله ویني بهېږي سپرلے به راشي ، مرتب حبران خټک ، قلم کاروان صوبه سرحد ، اکتوبر ١٩٨٦ء ، مخ ٢٧
[38] حمزه شنواري دیوان ، مخ ١٩٠
[39] کلیات حمزه شنواري دیم جلد ، ډائرېکټر پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، ١٩٩٤ء ، مخ ٥٢٦